# د ښوونځي نه مخکي یا وړکتون د ماشومانو
# د میندو او پلرونو لپاره مهم ټکي

- مور یا پلار د ماشوم لومړني او تر ټولو ښه ښوونکي دی.
- 
- د ماشوم سره یو ځای کار وکړي لکه هغه فعالیتونه چي د "د خپل ماشوم سره مرسته وکړی چی د "ښوونځي ته تیار شی" د معلوماتی کتابچي د "وړکتون ته ښه راغلاست" په پاڼه کي شته.
- خپل ماشوم تشویق کړی او دهغه صفت وکړی. په دی کار دهغه سره مرسته کیږی تر څو نوی کارونه زده کړی.
- هغه وخت چی تاسی د ماشوم سره په لوبو یا سرگرمی اخته یاست د هغوی سره خبری وکړی او و خبرو ته یی غوږ ونیسی.
- د خپل ماشوم سره په خپله مورنی ژبه خبری او لوستل وکړی.
- هغه شیان چی د "وړکتون ته ښه راغلاست" په معلوماتی کڅوړه کی شته هغه د میندو پلرونو او د هغوی د ماشومانولپاره دی تر څو هغوی یو ځای خوند ترینه واغلی.

هغه کورنی چی د وړکتون ته ښه راغلاست کڅوړی د شیانو څخه کار اخلی هغوی به د خپلو ماشومانو سره مرسته وکړی تر څو دا لاندنی مهارتونه چی په ښوونځی کی د بریالیتوب لپاره مهم دی او په لاندی ډول دي، زده کړی:

- غوږ نیول
- خبری کول
- د نورو زده کوونکو سره د درسی موادو شریکول
- د لغاتو تقویه
- د لارښودنو پوهیدل
- د لوستلو د زده کړی پیل
- د الفبا سره بلدتیا
- د نمرو سره بلدتیا او دحساب د زده کړی پیل
- د نکلو او کتابونو څخه خوند اخیستل
- د غیچی د استعمال لپاره د لاس او گوتو کنترولول
- رنگ کول او د سرښ استعمال
- د لیکلو د پیل زده کړه
- نوی فکر کول
- د تصمیم نیول
- اعتماد